# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه ـ خبر نامه

# News Bulletin

**16اسد_سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو چارو وزات مسلکي مرستیال د بلخ والي سره ولیدل------------------------------------------------------------ 1

د مهاجرینو وزارت پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه------------------------------------------ 2

د مسلکي معینیت سرپرست په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونیت پلاوي سره لیدنه وکړه ---------------------- 3

د مسلکي مرستیال په مشرۍ پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو له ښارګوټو څخه لیدنه وکړه---------------------------- 4

بیش از دو هزار مهاجر افغان از ایران، به وطن عودت نمودند ------------------------------------------------------------ 5

هزاران خانواده درولایت خوست کمک خوراکی دریافت نمودند ---------------------------------------------------------- 6

مهاجر پس از غرق شدن دو قایق در نزدیکی ایتالیا مفقود اند ------------------------------------------------------------ 7

پاکستان کې د افغانانو ځورونه زیاته شوې ----------------------------------------------------------------------------- 9

شاروالی کابل, در یک سال گذشته چهارمیلیارد و 228 میلیون افغانی عاید داشته است ------------------------------ 9

# متن کامل اخبار

## د مهاجرينو چارو وزات مسلکي مرستيال د بلخ والي سره وليدل

د وزارت ويب سايت




**د مهاجرينو اوراستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد او مل پلاوي د بلخ ولايت له والي حاجي محمد يوسف وفا سره ليدنه وکړه.**

**په دې ليدنه کې لومړی د بلخ والي پلاوي ته ښه راغلاست ووايه او په ياد ولايت کې یې د مهاجرينو په برخه کې يو لړ شته ستونزې له ښاغلي راشد سره شريکې کړې.**

**په ناسته کې دواړو لوريو په بلخ ولايت کې راستنېدونکو، داخلي بېځايه او اړمنو کورنيوته د سرپناه جوړولو، بشري مرستو رسولو او نورو اړينو موضوعاتو خبرې وکړې.**

**تاکل شوې ده، چې د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد او ورسره پلاوی به د دې سفر په ترڅ کې په دغه ولايت کې دمهاجرينو په برخه کې د شته ستونزو او ننګونو د برسی په موخه دمهاجرينو له ګڼ شمېر استازو، د مهاجرينو او په دغه ولايت کې د مهاجرينو له ښارګوټو څخه له نږدې ليدنه وکړي او دحل په برخه کې به يې لازمي کړنې تر سره کړي.**

انځورونه د بلخ ولايت مقام د رسنيو او معلومات مرکز

## د مهاجرینو وزارت پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د مهاجرین چارو وزارت پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه لیدنه وکړه او ددغه ولایت د ریاست د کارکوونکو، بېځایه شوو، راستنېدونکو او اړمنو ستونزې او ننګونې یې واورېدې.

ښاغلي راشد وویل، بلخ ولایت یو له هغو ولایتونو څخه دی چې د تېرو جګړو، ناامنیو او طبیعي پېښو له امله ورته د بلابېلو ولایتونو او سیمو څخه زیات شمېر مهاجر راکډه شوي، لله الحمد اوس مهال په ټول هېواد کې سوله او امنیت دی او د ملي او نړیوالو مرستندیه بنسټونو مو داغوښتنه ده،چې په نږدې او لېرو پرتو ولسوالیوکې په ډاډه زړه راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې په ګډې همکارۍ او همغږۍ بشري مرستې ووېشي.

هغه همدا راز د ریاست ټولو کار کوونکو ته لارښوونه وکړه، چې مراجعینو سره دې د اسلامي اوانساني همدرۍ له مخې نیکه رویه وکړي، خپل فعالیتونه او کړنې دې په شفافه او عادلانه توګه تر سره کړي او مرستندویه بنسټونه دې، دې ته وهڅول شي چې بېځایه شو او اړمنو کورنیو سره خپلې بشري مرستې لا زیاتې کړي ترڅو ټولې مستحقې کورنۍ دمرستو څخه برخمنې شي.

په پای کې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو رییس مولوي اسد الله وفا د یاد ریاست د فعالیتونو او تر سره شووکړنو په اړه د وزارت پلاوي ته معلومات ورکړل



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## د مسلکي معينيت سرپرست په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونيت پلاوي سره ليدنه وکړه

د وزارت ويب سايت



د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت حقوقي سلاکار او د مسلکي معينيت سرپرست مولوي محمودالحق احدي د اقليمي بدلون او چاپيرل ساتنې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت د سياسي او امنيتي برخې له پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې داقليمي بدلون، وچکالی او په مهاجرت کې د هغه د رول په اړه خبرې اترې وشوې.

ښاغلي احدي وويل، بدبختانه، چې افغانستان د اقليمي بدلون او وچکالۍ له امله زيات متاثر شوی او شک نه شته، چې د دې بدلونونو اغېز د افغانستان سربېره په نوره نړۍ کې هم ليدل کېږي

نومړي زياته کړه، بايد وويل شي، چې په افغانستان کې د مهاجرت لامل يوازې اقليمي بدلون نه، بلکې دپرديو مداخلې او نور هم شامل دي او افغانستان د وروستيو دوو لسيزو ګ کې له دې اړخ له ډېرو ستونزو سره مخ دی.

د مقام د دفتر رييس قاري محمد اجمل وياړ او د داخلي بېځايه شوو وضعيت ته د رسېدو رييس مولوي سردار محمد شېرزاد چې په ناسته کې يې شتون درلود په مهاجرتونو کې د اقليمي بدلون او وچکالۍ د رول په اړه خبرې وکړې ويې ويل، دا يوه نړيواله ستونزه ده اوبې له شکه د ډلييزو مهاجرتونو لامل کېږي.

هغه زياته کړه، چې افغانستان له دې اړخه له زياتو ستونزو سره مخ دی او له دې ستونزو څخه د وتو لاره د وزارت سره د مرستندويه بنسټونو همکاري او همغږي ده.

د ياد دفتر د اقليمي بدلون او چاپيريال ساتنې برخې استازې ميرمن چيريتي وويل، اقليمي بدلون او وچکالي، په ټولنيز ژوند، سوله، امنيت او مهاجرتونه زيات اغېز لري او دايمي حل لپاره به يې په ګډه تر نړيوالې ټولنې ستاسې پېغام اووړانديزونه انتقالوم.

هغه زياته کړه، اقليمي بدلون يوه نړيواله ستونزه ده او د زيان کچه يې په افغانستان کې زياته وه، که دې موضوع سره سياسي برخورد وشي باوري يم چې د افغانستان خلک به د لاډېرو ستونزو سره مخ شي.

**همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي او امنیتي معاونت پلاوي میرمن جولین لیني وویل، چې د وزارت کړنې او کار یوه بشري برخه ده او نړیوالې ټولنې ته وایو چې داموضوع او ستونزه سیاسي نه کړي او په دې برخه کې به ستاسې پیغام د نړیوالې ټولنې سره شریک کړم.**
**یادو مسؤلینو دغه ناسته دافغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ دباور رامنځته کولو په برخه کې اغېزمنه وبلله.**

## د مسلکي مرستیال په مشرۍ پلاوي د بلخ ولایت د مهاجرینو له ښارګوټو څخه لیدنه وکړه

د وزارت وېب پاڼه



**د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ پلاوي بلخ ولایت ته په خپل سفرکې د مهاجرینو له ښارګوټوڅخه لیدنه وکړه او د دغه ښارګوټو د اوسېدونکو ستونزې او ننګونې یې واورېدې.**

**د قالین بافانو د مهاجرینو ښارګوټي اوسېدونکو د مهاجرینو چارو وزارت څخه په دغه ښارګوټي کې د خدمتونو د وړاندې کولو او د ټولنیز او ښاري ژوند د برابرولو له امله مننه وکړه او یادونه یې وکړه چې د اوبو رسولو شبکه د مهاجرینو چارو وزارت په رهبرۍ جوړه شوې او هم له دولتي بریښنا څخه برخمن دی.**

**همدارنګه په دغه ښارګوټو کې یوشمېر نورې بنسټیزې پروژې لکه، د اوبو د ژورو او نیمه ژورو څاګانو کیندل، پلونو، پلچکونو، روغتیایي مرکزونو، ښوونځیو، جوړل  هم پلي شوي دي.**

**د ښارګوټو اوسېدونکو په دغه ښارګوټو کې د ځمکې غصب یو عمده ستونزه یاده کړه او د مهاجرینو چارو وزارت څخه یې د یادې ستونزې دحل او نیمګړو پروژو د بشپړېدو غوښتنه وکړه.**

**ښاغلي راشد د ښارګوټو دبېلابېلو برخو څخه  د لیدنې پرمهال د یادو ستونزو دحل ژمنه وکړه ویې ویل ،چې د مرکزي  ادارې سره په ګډې همکارۍ او همغږۍ به یې د حل په برخه کې لازمې کړنې تر سره کړي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راستنېدونکو د بیا یو ځای کېدو آمر انجنیر بشیر د معلوماتو له مخې په دغه ولایت کې د مهاجرینو لپاره څلور ښارګوټي ځانګړي شوي، چې یو یې دقالین بافانو د مهاجرینو ښارګوټی دی، د مرکز څخه ۲۲ کیلومتره لرې په ۱۰۰۰ جریبه ځکمه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ۱٤۸٤ نمرې کېږي.

اوسمهال پکې ۲٤۰ کورنۍ ژوند کوي، ۱۲۰۰ نمرې یې د کمیسیون له لورې پاس شوي، ۸۳۳ تنو یې په بانک کې پیسې تحویل کړي، ٦۷۷ نمرې خلکو ته سپارل شوي، ٤۸٤ پاتې دي، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې پکې ٤ ژورې څاګانې، داوبو رسونې شبکه، سولرپمپ او ۱٤۲ شلتړې جوړې شوې او د ناروې د کډوالو ادارې له لورې ۸۱ شلتړې جوړې شوي، دGIZ موسسې له لورې ۱۰ نیمه ژورې څاه ګانې کیندل شوي، روغتیایي مرکز نه لري، د ازبکستان هېواد له لور ۱ښوونځی، د وزارت مقام له لورې ۱۳ کیلومتره سرک جوړ شوی، ٤٥ پلچکونه، د ریل پلټۍ،د برق ۸۱ پایه ګانې، یو درې اطاقه ښوونیز مرکز او ۱ د قالینو د پروسس مرکز پکې جوړ شوی، ۱۰۰۰ نمرې یې خط اندازي شوي او ۲۷۰ نمرې پکې د سوداګرۍ او صنایع وزارت له لورې وېشل شوي او کودکستان نه لري.

دوهم یې د مولانا جلال الدین محمد بلخي د مهاجرینو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ۲۲ کیلومتره لرې په ۳۱۰۰ جریبه ځکمه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ٦٥۱٦ نمرې کېږي. اوسمهال پکې ٦۰ کورنۍ ژوند کوي، ۳۱۹٦ تنو یې په بانک کې پیسې تحویل کړي، ۱۳٥۰نمرې خلکو ته سپارل شوي، ٥۲٦٥ پاتې دې، اکتیډ موسسې له لورې پکې ۲٦۰ شلتړې جوړې شوي، ٦ د اوبو ژورې څاه ګانې سره دذخیرو، یو ښوونځی او یو روغتیایي مرکزجوړ شوی، د اوبو رسونې شبکه نه لري، د ای ساف له لورې ۱ کانټینر، د وزارت مقام له لورې ۱۳۲۲ کیلومتره سرک او ۲٥ پلچکونه جوړ شوي، د ریل پلټۍ، د برق پایه ګانې او ښوونیز مرکزونه لري او ۲۸۸۸ نمرې یې د ښار جوړونې او مهاجرینو چارو وزارت له لورې خط اندازي شوي.

درېیم یې قشلاک د مهاجرینو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ٦۲ کیلومتره لرې په ۱۰۳ جریبه ځکمه کې جوړ شوی، تفصیلي پلان لري، چې ټولې ۳۰۷ نمرې کېږي اوسمهال پکې ۱۰٥ کورنۍ ژوند کوي، ۱۰۳ تنو یې په بانک کې پیسې تحویل کړي، ۱۰٥ نمرې خلکو ته سپارل شوي، ۲۰۲ پاتې دي، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې لورې پکې ۱۰٥ شلتړې جوړې شوي، داکتېډ له لورې۱ د اوبو ژوره څاه او یو ښوونځی جوړ شوی، د اوبو رسونې شبکه او روغتیایي مرکز نه لري، دعامو خلکو له لورې پکې یو مسجد جوړ شوی، د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې لورې ۸۱۰ کیلومتره سرک ، ۳ پلچکونه،۱٥۰ کورنیو ته د لمریزې برېښنا تختې او ۱۰٥ نمرې خط اندازي شوي دي.

او څلورم یې هم د قرقین ولسوالۍ د مهاجرینو ښارګوټی دی، چې د مرکز څخه ۲۲ کیلومتره لرې په ۲۰۰ جریبه ځکمه کې جوړ شوی، تفصلي پلان لري، چې ټولې ۲۳۱ نمرې کېږي. اوسمهال پکې څوک ژوندنه کوي، ۸۸ نمرې خلکو ته سپارل شوي، شلتړې، د اوبوڅاګانې، د اوبو شبکې، روغتیایي مرکز، مسجد، ښوونځی، د سرک جعل اندازي، پلونه، پلچکونه یې نه دي جوړشوي، عام المنفعه پروژې پکې نه دي پلي شوي او ۳۱ نمرې یې د ښارجوړونې وزارت لورې خط اندازي شوي دي.

## بیش از دو هزار مهاجر افغان از ایران، به وطن عودت نمودند

ویب سایت وزارت




**دو هزار و 367 نفر مهاجر افغان، به تاریخ 14 اسد از ایران به کشور برگشتند.**

**به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات از میان افراد مذکور، 330 نفر ایشان، غرض در یافت کمک به نماینده گی دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شده اند.**

**برای اشخاص معرفی شده از جانب دفتر مذکور مساعدت های خوراکی و غیر خوراکی صورت گرفته است.**

## هزاران خانواده درولایت خوست کمک خوراکی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت خوست ازختم توزیع مواد خوراکی برای 7 هزار و923 خانواده بیجاشده وزیرستانی  باهمکاری سازمان جهانی خوراک به تاریخ 14 اسد خبرداد.**

**خانواده های مذکور توسط اداره مهاجرین آن ولایت قبلا در ولسوالی های تنیی، گربز وگلان کمپ سروی و مستحق شناخته شده بودند.**

**برای هریک از خانواد های یادشده 4 قلم  مواد خوراکی  تحت نظارت اداره مهاجرین آن ولایت از تاریخ  اول اسد آغاز و به تاریخ 14 اسد پایان یافت.**

## مهاجر پس از غرق شدن دو قایق در نزدیکی ایتالیا مفقود اند

دویچه وله




**دستکم ۳۰ نفر در پی واژگونی دو قایق در جزیره لامپدوسا ایتالیا ناپدید شده اند .سازمان بین المللی مهاجرت به نقل از بازماندگان اعلام کرد که حدود ۲۸ مهاجر فقط از یک قایق مفقود اند.**

**یکی از عملیات های نجات مهاجران از آب ها در نزدیکی ایتالیاعکس :**

**سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) روز یکشنبه گفت که سه نفر نیز از یک قایق دیگر مفقود شده اند.**

**هر دو قایق روز شنبه در هوای طوفانی واژگون شده اند. گمان می رود که این قایق های فلزی غیرقابل دریانوردی روز پنجشنبه شهر بندری صفاقس در تونس را ترک کرده بودند.**

**فلاویو دی جاکومو، سخنگوی سازمان بین المللی مهاجرت به خبرگزاری فرانسه گفت، پس از گفتگو با بازماندگان، کارمندان این سازمان گمان می‌کنند که "حداقل ۳۰ نفر مفقود شده‌اند." تحقیقات در مورد غرق شدن کشتی در آگریجنتو در جزیره سیسیلی ایتالیا آغاز شده است.**

**مرتبط :گارد ساحلی: امسال حدود ۸۰۰ تن در نزدیکی سواحل تونس غرق شده اند**

**امانوئل ریسیفاری، رئیس پولیس آگریجنتو، گفت که قاچاقبران احتمالاً می دانستند که امواج آب ها، شدید پیش بینی شده است. ریسیفاری به رسانه های ایتالیایی گفت: «هرکسی که به مردم اجازه سوار قایق ها را داده یا آنها را مجبور به حرکت در این شرایط کرده "یک جنایتکار" بی رحم است«.**

**برای روزهای آینده نیز آب و هوای بد در بحیره مدیترانه پیش بینی شده است. ریسیفری گفت که امیدوار است در این شرایط افراد بیشتری به دریا اعزام نشوند.**

**بیشتر بخوانید :اتحادیه اروپا و تونس تفاهم نامه مبارزه با مهاجرت غیرقانونی را امضاء کردند**

تونس یک کشور ترانزیت مهم برای پناهندگانی است که می خواهند از طریق مسیر خطرناک مدیترانه خود را به اروپا برسانند. شهر ساحلی صفاقس تنها ۱۳۰ کیلومتر با جزیره ایتالیایی لامپدوسا فاصله دارد. به گفته حکومت ایتالیا، امسال ۸۰ هزار مهاجر عمدتاً از لیبیا و تونس به سواحل ایتالیا رسیده اند .طبق گزارش سازمان بین المللی مهاجرت(IOM) ، بیش از ۲۰ هزار نفر از سال ۲۰۱۴ به این طرف در عبور از بحیره مدیترانه جان خود را از دست داده اند.

## پاکستان کې د افغانانو ځورونه زیاته شوې

راديوسپوژمی



په پاکستان کې مېشت افغان کډوال شکایت کوي چې یو وار بیا د پولیسو له لوري د دوی ځورول زیات شوي دي. په راولپنډۍ او اسلام اباد کې یو شمېر دېره افغانان وايي چې پولیس د شپې پر مهال د دوی کورونو ته ورځي، تالاشي اخلي، سپکې سپورې ورته وايي او د قانوني اسنادو له لرلو سره سره یې تانو ته بیايي.

دوی ادعا کوي چې پولیسو ورته ویلي چې له رسنیو سره به خبرې نه کوي ګنې سخته سزا به ورکړي.

د پاکستان په دغو دوو ښارونو کې ځو تنو افغانانو وویل چې پولیس پر دې سربېره چې په افغانانو پسې کورونو ته ورځي، په لارو او کوڅو کې هم هر هغه ځوک چې د افغان شک پرې وکړي، نیسي او د قانوني اسنادو پروا یې نه کوي.

## شاروالی کابل، در یک سال گذشته چهارمیلیارد و 228 میلیون افغانی عاید داشته است

آژانس اطلاعاتی باختر




**مولوی محمد خالد سجستانی معین خدمات شهری و حفاظت محیط زیست شاروالی کابل، امروز در برنامۀ حسابدهی دولت به ملت، در رابطه به کار کرد ها و دستاورد های یک سال گذشته این نهاد توضیحات داد.**
**به گزارش خبرنگارآژانس باختر؛ در این برنامه که در مرکز اطلاعات رسانه های حکومت برگزار شد، معین شاروالی کابل، گفت که این نهاد، در یک سال گذشته از منابع عایداتی خود چهار میلیارد و 228 میلیون افغانی به دست آورده است.**
**معین خدمات شهری و حفاظت محیط زیست شاروالی کابل، گفت که این نهاد از بودجۀ داخلی خود در یک سال گذشته، پروژه های مختلف را در بخش های ساخت سرک های شهری، ساخت جوی ها و کانال های رد آب های سطحی، بهبود زیربنا های ترانسپورت عامه، پلانگذاری توسعه شهری، حفظ و مراقبت زیربنا های شهری و اعمار ساختمان های شهری، عملی کرده است.**
**همچنان سروی و دیزاین 125 کیلومتر سرک مطابق معیار های ترانسپورتی و دیزاین 10 کیلومتر کانال نیز در جریان سال گذشته تکمیل شده است.**
**وی خاطرنشان کرد که طی یک سال گذشته، بیش از 600 هزار اصله نهال به خاطر سرسبزی، در شهر کابل غرس شده و 271 هزار و 865 تن زباله از نواحی مختلف شهر کابل جمع آوری و به خارج از شهر انتقال داده شده است.**
**همچنان در این برنامه نعمت الله بارکزی نماینده و مشاور امور فرهنگی شاروالی کابل، نیز در مورد کار کرد ها و برنامه های آینده این نهاد معلومات داد و گفت که در سال گذشته شاروالی کابل، در زمینه کنترول قیمت ها، جلوگیری از احتکار و آلودگی صوتی اقدامات لازم کرده است.**
**او اضافه کرد که به منظور جلوگیر از آلودگی هوا، هیئت شاروالی کابل، 3692 بلند منزل را در شهر کابل بررسی کرده است و در 269 بلند منزل که فلتر تصفیه دود نداشتند، فلتر نصب شده است.**
**وی افزود که شاروالی کابل متعهد است تا درقسمت توسعه پایدار شهر، ارائه خدمات معیاری و حل مشکلات شهروندان کابل اقدامات لازم و به موقع انجام دهد.**
**در اخیر این برنامه مسوولان شاروالی کابل، به پرسش های خبرنگاران پاسخ ارائه کردند.**